سرلوڅ مرادزی ۲۰۲۱ / ۰۲ / ۲۱

د سقاو له ختې

په رسنیو کې دا خبر چې پنجابي واکمن غواړي اسلام اباد کې کومه کوڅه د احمد شا مسعود په نوم ونوموي، ښکته پورته کیږي! ریښتیا هم د پنجاب د تاریخي دښمن، افغانستان په ویجاړۍ او د افغانانو په سپکاوۍ کې چې احمدشا مسعود او برهان الدین رباني کومه ونډه اخیستې، د مسعود او رباني په نوم یوه کوڅه څه چې که خپله پلازمېنه، اسلام اباد هم ونوموي، پنجاب به تاوان نه وي کړی، بلکې پوره ګټه به یې کړې وي.
که په ۱۹۲۹ کال پاکستان شتون درلودلی، د اوسني اسلام اباد پرځای به یې د خپلې پلازمینې نوم سقاواباد ایښی وای!
کوم خدمت چې سقاو او ډلې یې په ۱۹۲۹ کال د اماني غورځنګ په رنګولو سره انګریز ته وکړ، د ۱۳۵۲ کال راهیسې د ارواښاد سردار داوودخان له واکمنۍ راوروسته احمدشا مسعود او برهان الدین رباني، په ورته ډول د انګریز میراثخور اسلام اباد ته ترسره کړ.
په افغانستان کې سقاویان او پاکستان کې پنجابیان په لویه کې د یوې انګریزي پروژې دوه برخې جوړوي چې د ډیورنډ تپلې کرښې دواړو غاړو ته، وخت ته په پام سره کارول کیږي!
پخواني سقاو او ډلې یې په ۱۹۲۹ کال د غازي امان الله خان د هېوادپالنې او د افغانستان لپاره یې د نوموړي د سوکالۍ او پرمختګ تګلار شنډه کړه، همداسې په ۱۹۹۲ کال بیا برهان الدین رباني او احمدشا مسعود افغان هېواد ویجاړ او افغانان یې د لویې سپکاوۍ او بدبختي سره مخ کړل.
د مسعود او رباني ډله نن هم، د ولسمشر غني په مشرۍ د هغې کړنلار په وړاندې لوی خنډ جوړوي چې د غازي امان الله خان د اصلاحاتو نیمګړی فصل پلیتوب لپاره په پام کې نېول شوی.
نصیراله بابر د پاکستان د کورنیو چارو پخوانی وزیر، د مجاهدینو او طالبانو روزندوی او سمبالونکي، د وطن نومي مجلې سره په یوه مرکه کې ویلې ول:
«ټیک ده چې په ۱۹۷۳ کال کې انجنر حبیب الرحمان بیا حکمتیار، احمدشا مسعود او وروسته رباني او نور دلته راغلل. هغوی ته موږ ترېننګ شروع کړ...د نهضت لومړنیو مجاهدینو ته له اکتوبر ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۷ پورې ما ترېننګ ورکولو. په هغه وخت کې د دوی قیادت دلته وو. دوی به د کابل له کالج او یونیورسټي څخه هلکان راوستل او مونږ به ترېننګ ورکولو او بیا به مو خپلو خپلو ولایتونو ته لیږل، ترڅو دوی هلته نورو ته درس ورکړي. مونږ دلته دوی هر یوه ته بېل بېل کارونه سپارل. رباني به شبنامې او داسې نور شیان لیکل او حکمتیار د ارتباط کارونه کول.
لیکن د داوود په وخت کې مونږ داسې وکړل چې غوښتل مو داوود ته یو درس ورکړو. مونږ احمدشا مسعود پنجشېر ته ولېږه. مونږ په پنجشېر کې په مسعود باندې عملیات وکړل (۱۹۷۵ کې) ترڅو معلومه کړو چې دا کسان څومره ترېننګ شوي دي. هغو عملیاتو داوود ته پوره تاوان اړولی وو.
...بیا په ۱۹۷۸ کال کې دوی ما ته راغلل او ویل یې چې پیسې هم نشته او بل شی هم نشته، مونږ په ډېر بد حال یو ...نو ما دا وکړل چې اول مې شاه ایران ته پیغام ولیږه چې مونږ دا خلک ترېننګ کړی دي، ته له دوی سره مرسته وکړه ...بیا ما دوی امریکا ته بوتلل. زه خو له صوبه سرحد څخه وتلی نه شوم. زما یو دوست وو په اسلام اباد کې هغه هم کور جوړولو او ما هم، نو ما به دا مجاهدین د هغه کور ته ورلیږل، خو په شفر کې به مې خبره ورته کوله، ورته ویل به مې چې ګلکار درغی (ګلبدین) به ورغی او که به مې ورته ویل چې **د بجلي والا (برقي) درغی نو احمدشا مسعود به ورغی.»**
په ۱۹۹۲ کال او وروسته مسعود ـ رباني پخپل حکومت کې د جهاد وخت د ملاتړ په بدل کې د اسلام اباد د رضا لپاره لوی خدمتونه ترسره کړل. د پاکستان د استخباراتو مشر، جنرال حمیدګل یې د خپلو استخباراتو او ریاست لوی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سلاکار وټاکه. افغان اردو یې له منځه یووړه او پوځي ټول وسایل یې وړیا او یا په ټیته بیه اسلام اباد ته ورکړل او یا یې د سوغات پټوګه ورکړل. د هېواد پلازمېنه کابل یې هدېره او کنډواله کړ. ۷۰ زره کابلښاریان یې له تیغه تېرکړل او د پاکستاني جنرالانو (اختر عبدالرحمان) دا خبره «Kabul must burn » یې په عمل کې ثابته کړه!
دا چې خلیل الله خلیلي د سقاویانو بل پاتېشونی، د افغانانو د قاتل جنرال ضیالحق په مړینه مرثیه وایي، تصادفي پېښه نه ده. دا ټول له یوې ختې جوړ دي!

شو ضیاالحق چراغ ارزوی مسلمین
علمدار مسلمین شو میهن سرباز دین
جانشین شیر یزدان شو در خیبر گشا
در مقام خالدی، میدان محشر زمین
او تر پایه

نن چې اسلام اباد احمد ولي مسعود هلته غواړي او کومه کوڅه یې د ورور(احمدشا مسعود) په نوم ورنوموي په حقیقت کې پنجاب ته د مسعود د تېرو خدمتونو په بدل کې ترسره کیږي. بلخوا نن هم اسلام اباد د مسعود کورنۍ ته تر پخوا زیاته اړتیا احساسوي. اسلام اباد چې د ولسمشر غني حکومت ړنګولو لپاره د ګلبدین او طالبانو په ژبه د موقت حکومت بولاله توده ساتي، د مسعود کورنۍ ته هم باید په دې تړاو نوې دنده ورپه ګوته کړي.
همدارنګه فکر نه کیږي چې ټوله خبره به یوازې د کومې کوڅې نومول وي، د موقت حکومت د غوښتنې تر تاوده ساتلو وراخوا، ډېرې نورې دندې هم شته چې اسلام اباد یې غواړي مسعود کورنۍ ته یې وسپاري. یوه زړه خبره به د ډیورنډ کرښې په اړه احمد ولي مسعود ته نوې سپارښتنې وي. بل پلو پنجاب غواړي چې مسعود خپل په افغانستان کې د هغې دندې ترسره کولو ته وهڅوي چې د اسلام اباد په اند یې د پښتنو د تحفظ مومینټ(PTM) په لره پښتونخوا کې ترسره کوي. اسلام اباد باید افغان مرکزي حکومت په کور دننه بوخت وساتي. که په راتلونکې کې د طالبانو پروژه پیکه کیږي، بدیل یې باید مخکې تر مخکې چمتو شوی وي.
ډیری افغان فکر کوي چې احمد ولي مسعود به د یو سرک د نومولو بدل کې په هېواد دننه د څو سرکونو، ښوونځیو، پروژو او ماڼیو د تخریب دنده په غاړه اخیستې وي!
که پنجاب په اسلام اباد کې هره کوڅه د احمدشا مسعود په نوم نوموي، خو د مسعود په څنګ کې دې ورسره دا هم ولیکي: د بجلي ګر کوڅه!

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ